د افغانستان دڅیرنی او ارزونی اداره

د برخه ایزو څېړونو لنډیز

# په افغانستان کی د جنګ د میراثونو رغونه



ایمیلی وینتر بیتم

مرغومی ۱۳۹۰

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې او دمعلوماتو پراخول دي.

همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره نوموړې اداره د پالیسي جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړې کولو او ددوی په مینځ کې د دې ادارې د څېړنو او کتابتون څخه د ګټه اخیستنې دترویج په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې ادارې په ۱۳۸۱المریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته یې په کار پیل وکړ اود یو مدیره پلاوې درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلي بودجه د ډنمارک ، فنلند، ناروی، سویډن، سویزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انستیتیوت (FOSIA)، ایشیا فوندیشن (TAF)، اروپایې کمیسیون (EC)، او د نړیوالې پراختیا لپاره د څېړنیز مرکز (IDRC) له خوا ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره مالی مرستې کیږي.

ژباړونکی: احمد الله امرخیل

طرح او ډیزاین: نجیب یزدانی

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره دنشراتو مخصوص شمیره (۱۲۰۱P) دی.

© ۱۳۹۰ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره. ځینې حقونه خوندي دي.دغه خپرونه ښایي د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د لیکوال د لیکلې اجازه لیک د تر لاسه کولو سره بیا خپره، د موندلو وړ سیستم کې زیرمه او یا یوائې د غیر–سوداګریزو موخو لپاره ولیږدول شي. چیرې چې دغه خپرونه بیا خپره، زیرمه او یا د بریښنایي لارې لیږدول کیږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې دادارې د ویب پاڼې اړیکه باید ذکر شي www.areu.org.af. او ددې خپرونې په کارول له نوموړې موافقې پرته ، د خپرونکې یعنې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې مخکینې لیکلې اجازه لیک ته اړتیا لري. دغه اجازه لیک کیدای شي د areu@areu.org.af او یا د ۰۰۹۳۷۹۹۶۰۸۵۴۸ شمیرې سره د اړیکې له لارې تر لاسه شي.

# لنډيز

د طالبانو له نسکوريدلو څخه لس کاله وروسته بيا هم افغانستان د زياتيدونکی شخړی او دبخښنو چاپيريال دی. په داسی حال کې، د افغانستان د حکومت او د هغه د نړيواله دوستانو ټوليزه هڅی دا وی چې د ياغيانو له مشرانو سره د خبرو اترو او د افغانستان له ټولنی سره د هغوی د جنګيالانو يوځای کولو له لاری د تاوتريخوالی په پايته رسولو باندی تينګار کړی دی. سولی ته د لاس بری په هڅو کې، پاليسی جوړوونکی د پخلاينی او نورمال ژوند ته د بيرته را ستنيدو په بهير کې د عدالت په ګډولو کې په زياته کچه ناکامه پاتی دی. لدی کبله له ۲۰۰۱ کال څخه را پدی خوا همداسی په وړاندی تللی ده، داسی چې د جګړی د مهال ځواب وييني په پرتله د ګړنده ثبات اړتيا ته لومړيتوب توب ورکړ شوی دی. همدارنګه ددی لپاره چې د افغانستان حکومت او د هغه نړيواله دوستانو د تيرو او اوسنيو جګړو د جرمونو لپاره د عدالت او معاوزه/جبران تأمينولو د يو هراړخيزه پروګرام په پلی کولو کې ناکامه پاتی شوی دی، دغه حقيقت د جګړو له پاتيدونکو نښو يا ميراث سره د چال چلند لپاره د خلکو توان له منځه وړی دی. لدی کبله زياتو هغو خلکو چې د افغانستان د څيړنی او ارزونی د اداری (AREU) په څيړنه کې ګډون کړی وه ووېل چې هغوی احساساً، رواناً او عملاً د مقاومت لپاره هڅی کولې او د جګړو د پای لپاره د هغوی هيلی همداسی پياوړی دی.

د ۲۰۰۹ کال د وړي په مياشت کې د افغانستان د څيړنی او ارزونی اداری يوه څيړنيزه پروژه په دی موخه پيل کړه چې په کليوالوسيمه ايزه ټولنو کې په افغانانو باندی د جګړو اغيزه وګوری، او دا وسپړی چې د افغانانو لپاره عدالت، سوله او پخلاينه د جګړو په تاوتريخوالو کې څه مانا لري. د ۲۰۰۹ کال د وړي څخه د ۲۰۱۱ کال تر سلواغی پوری په کابل، باميان، او غزنی ولايتونو کې هراړخيزه څيړنه تر سره شوه. له دغه څيړنی سره سره په کابل کې نوره مطالعه، له خلګو سره مرکې، او په غونډو، کانفرانسونو او بحثونو کې د ليکوال کتنه يا مشاهده هم تر سره شوه. د دغه څيړنی لومړنيزی موخی په لاندی ډول وی:

- افغاني ټولنو باندي دجګړي اودجګړي ميراثونواو دجګړو پرمحال د تاوتريخوالي او جرمونوته ځواب وييني ته په پاتي راتلوباندي پوه شو
- د انتقالی عدالت، پخلاينی او سولی په اړه د افغانستان د بيلا بيلو ټولنو د اميدونو او غوښتنو په اړه معلومات را غونډ شی، ددی لپاره چې د افغانانو د غه اميدونه او غوښتنی د پاليسيو د جوړولو په بحثونو کې ګډ شی، او
- د جګړی پر مهال د تر سره شويو جرمونو په ګوته کولو لپاره کړنلاری او ميکانيزمونه را پيدا کړی، تر څو افغانان وکولاي شي په خپل ژوند کی په وړاندی لاړشی، دداسی ليدلورو لپاره چاپيريال برابر شی چې پخوا يې فکر هم نکيدو او همدارنګه د انتقالی عدالت ميکانيزمونه په ځانګړی افغانی او اسلامی چاپيريال کی ځای پر ځای کړی.

## اساسی موندنی او سپارښتنې

په داسی حال کې چې سوله د ټولو هغو افغانانو لپاره چې مرکه ورسره وشوله يو اساسی غوښتنه وه، خو عدالت د زياتو خلکو لپاره يو لومړيتوب دي. په دغه څيړنه کې څرګنده شوه چې د عدالت، سولی او پخلاينی پروسی سره تړلی دی، داسی چې د هری يوی پروسی برياليتوب په بله پروسه پوری تړلی ده. خو همدارنګه داهم څرګنده شوه چې اکثره خلک دی ته چمتو او خوښ وه چې د سولی لپاره له نورو پروسو څخه تير شي.

له دغه څيړنی څخه يو شمير بنسټيزی پريکړي ترلاسه کيدلای شی:

۱. په افغانستان کې سوله راوستل د ټولو پاليسيو او پروسو په لومړيتوبونو کې په پام کې نيول کيږي ټولی پاليسۍ او پروسي بايد دسولی د اغيزی پر بنسټ وټاکل شي.

۲. د خلکو لیډلوری د هغوی په سیمه کې له شخړی څخه د هغوی ځانګړې او یا ګډو ازمیښتونو پر بنسټ ولاړې دي. د تیر وخت د ستونځو د اوارولو لپاره د افغانانو د غوښتنو څرنګوالی په حالاتو پوری تړلی دی او ښایی د وخت په تیریدو سره توپیر ومومی.

۳. د جرایمو عدلی میکانیزمونه او د جرایمو د حساب ورکونه د عدالت تر ټولو لا خوښوونکې او تر ټولو لا غوره لاری دی، خو د افغانستان حالاتو ته په پام سره دغه لاری اوسمهال په پراخه کچه پلی کیدونکی نه ګڼل کیږی.

۴. د جګړو جرمنونو د ښکیلوخلکو د بخښلو هیله هیڅوک هم نلری، او خلک نشی کولای چې د تیر وخت کړاوونه هیر کړي. خو د هغوی استدلال دادی چې حالاتو ته په پام سره د اوسمهال لپاره د تیر مهال د هیرولو سیاسی پریکړی کولای شی.

۵. په داسی حال کې چې د دولت د مشروعیت لپاره، او د قانون حاکمیت ته د درناوی، او د سولې لپاره د حالاتو د رامنځته کولو په موخه داسی جزاوی لکه: له دندو څخه د ښکیلوخلکو ایستل او یا تر قانونی تعقیب لاند نیول اړین دی.

۶. سوله او عدالت سره سیال مفاهیم ندی. بلکه په افغانستان کې عدالت په پراخه کچه داسی ګڼل کیږی چې له جزایی عدالت څخه لا زیات څیزونه پکی شامل وی، او په زیاته کچه داسی تری تمه کیږی لکه په ټپونو باندی چې مرحم ږدی. د عدالت رغوونکی او جبرانوونکی بڼې ښایې چې څه ناڅه د قربانی غوښتنې پوره کړي او همدارنګه د سولې راوستنی او پخلاینی اصلی اهدافو سره هم مرسته وکړي.

۷. په افغانستان کې رښتینی او تلپاتې سوله د ټیکاو، مشروع دولت، عدالت او پخلاینی په ترسره کیدو کې پرته ده.

۸. په افغانستان کې د عدالت ساتنې، سولې راوستنې، او پخلاینی لپاره یو لړ طریقو ته اړتیا ده چې په بیلا بیلو کچو کې کار وکړی تر څو ډاډه شی چې عدالت، سوله او پخلاینه په رښتیا د هیواد د ټولو وګړو استازیتوب کوی او مشوری سره تر سره کیږی.

## جزایی عدالت لاتروسه کیدونکې ندې خو د دولت سمون اړین دی

د جنګ جګړو د تاوتریخوالی پر وړاندی د عدالت لپاره تر ټولو لا خوښوونکی وسیله د جرایمو محاکمه وه، خو اوسمهال د دجزاڅخه خلاصون، بی امنی او بی سیکه دولتداری له کبله دغه مساله په پراخه کچه د امکان وړ نه ګڼل کیدله. په داسی حال کې چې ددی مانا دا نده چې خلکو کولای شو چې د جګړو د جرمونو مرتکبین بخښلی او یا پخوانی کړاوونه هیرولای شول. په ځای یی هغوی وییل چې کولای شی د اوسنیو حالاتو د ننګونو لپاره د اسی یو سیاسی پریکړه وکړی چې پخوانی حالت هیر کړي. لدی سره سره، له کومه ځایه چې د خلکو غوښتنی په حالاتو پوری تړلی وی او ښایې چې د وخت په تیریدو سره توپیر ومومی، کله چې پوره امنیت تامین شی، پراخ اکثریت به په اوږد مهال کې له خپلو حقونو تیر نشی او د جګړو د وخت د جرمونو حساب به وغواړي. ځکه خو اړینه ده چې د سولې پروسې د راتلونکې حساب ورکونی د لاری بندی نکړی.

دجزاڅخه خلاصون، دفعال دولتی عدلی سیستم نشتون او پراخ اداری فساد د افغانستان دولت د مشروعیت د ورانولو عوامل وو، او په ناامنه سیمو کې، لکه غزنی، دغه مسایل ستونزې د یاغیتوب د زیاتولو عوامل وو. لدی کبله، د دولت د سمون لپاره او د قانونی تعقیب او یا له دندو څخه د مجرمینو د لری کولو له لاری، دولت څخه بهر او د دولت دننه د بشری حقونو د تیری کوونکو لاسونه غوځ کړی، او ریښتین، توانمن او مشروع کسان وټاکي. زیاتره هغو کسانو سره چې مرکی وشوی داسی فکر یی کاوه چې که چیری د دولت جوړښت بدل نشی او مجرمین د هغوی له بستونو لیری نشی نو جګړه او نوری ستونزې به هیڅکه له هیواد څخه ورکی نشی.

## د افغانستان حکومت د خپلو نړیوالو ملګرو په ملاتړ باید:

- ډاډه کړی چې د سولې پروسی له نړیواله معیارونو څخه سرغړونه ونکړی او یا په راتلونکی کې د جګړو غړی د هغوی د کړنو لپاره د ګرم ګیلو امکان له منځه ولاړ نشی. د افغانستان د سولی او عادی ژوند ته د راستنولو په پروګرام کې د خپګان منشأ حلونه باید د پروسو او د حالاتو له مخی تعریف شی تر څو د بشری حقونو جدی سرغړونی او د بشری حقونو د نړیواله قانون پر وړاندی جرمونو باندی سترګې پټې نشی.
- نړیواله بسپنه ورکوونکې او ملګری ملتونه باید د افغانستان حکومت ته د نړیواله قوانینو[1] او د سولی، پخلاینی او عدالت د کاری پلان په وړاندی د دغه هیواد مسؤلیت ور په زړه کړی.
- د ملی لومړیتوبونو په پروګرام (NPP) کې د بشری حقونو او د ټولنیزو مسؤولیتونو پر وړاندی ژمنې ترلاسه شي. په ځانګړی توګه د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویې اداری سره د کار ژمنه وشي تر څو د سولی، پخلاینی او عدالت د کاری پلان (APPRJ) د پلی کیدو موده او پلان بیا وکتل شی.
- مرستندویه بسپنه ورکوونکی باید د بشری حقونو او د ټولنیزو مسؤولیتونو لپاره د خپلو پانګو زیاته برخه د ملی لومړیتوبونو د پروګرام له لاری ولږوی.
- د ادارو په دننه کې د نظارت او حساب ورکوني میکانیزمونه پیاوړی شی تر څو هغه کسان چې په دفتر کې له حده وتلی بی حرمتی کوی له دندی څخه ګوښه شي. د قانونی تعقیبولو میشتی پروسی لکه: د لوړرتبه ګمارنو لپاره د ولسمشر د سلا مشوری ځانګړی هیئت، پیاوړی شي، او د ټاکنو پر مهال د دغو پروسو رینښتینی کار پیاوړی کړی تر څو ډاډه شی چې مجرمین د قدرت مقامونو ته ونه رسیږی.
- ډاډه شي چې دافغانستان د سولی او نورمال ژوند ته د ستنیدو په پروسه کی د قانونی تعقیب برخی پلی کیږی ترڅو د طالبانو لوړ پوړه چارواکی چې د جګړو په جرمونو او د بشر پر ضد جرمونو ککړ دی، هغو ته واکمن بستونه (منصب) ور نکړای شي. همدارنګه د افغانستان دولت او د مرستو نړیوالو ځواکونو تر منځ داسی یو تړون ته اړتیا لیدل کیږی چې سیاسی پخلاینه تعریف او لا ښه واضع کړی چې کوم جرمونو د بخښنې وړ دی او کوم ندی.
- د سترو جرمونو په هکله په حقوق العباد باندی د ټینګار په پام کی نیولو سره دی یو ملی د سلا مشوری او یا ریفرندم په پام کې ونیول شی تر څو په افغانستان کې د بخښنې په هکله لیدلوری راغونډې کړي.
- رسمی عدلی سیستم ته دی په پراخه کچه د خلکو لاسرسنه لا ښه شي او د دغه سیستم کړنی دی هم لا ښی شي.
- که چیری ثابته شی چې د افغانستان کورنی عدلی میکانیزمونه نه غواړی او یا نشی کولای چې د جګړو اصلی مجرمینو په هکله رینښتینی پلټنه وکړی او محکمه یې کړي، نو د جرمونو نړیواله محکمه (ICC) باید یو رسمی پلټنه پرانیزی تر څو له۲۰۰۳ څخه را په دی خوا هر ډول جرم وسپړي.

[1] افغانستان دغه کانوانسیونونه منلی دی او په هغو پوری تړلی دي: د ۱۹۴۹ کال د جنیو کانوانسیون (او د هغه د ۱۹۷۷ کال پروتوکولونو)، د ۱۹۴۸ کال د عام قتل کانوانسیون، او د ۱۹۶۸ کال د جنګ جګړو د جرمونو او بشر په وړاندی جرمونو د مقرری د کمولو د نه تطبیق کنوانسیون، د ۱۹۷۹ کال د ژزو په وړاندی د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کانوانسیون، د ۱۹۷۶ کال د مدنی او سیاسی حقونو کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال د هر ډول نژادی تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون، د ۱۹۸۴ کال د شکنجه، او نورو ظالمانه، غیر انسانی او یا سپکاوی چال چلند یا سزا پر ضد کنوانسیون او د ۱۹۸۹ کال د ماشومانو د حقونو کانوانسیون. همدارنګه افغانستان د روم مقرره لاسلیک کړی او د نړیواله جنایی جرمنو تر محکمی لاندی راځي.

## نړیواله او افغان مدنی ټولنه باید:

- د بشری حقونو د پیښیدونکو تیروتنو په وړاندی د یو ناظر په توګه عمل وکړي.
- د سولی د هر ډول پروسو څخه کتنه وکړی او د تبلیغاتو له نوښتونو څخه ملاتړ وکړی ترڅو ډاډه کړی چې عدالت د هر ډول بحثونو اصلی برخه وی، او ډاډه کړی چې د بشریت په وړاندی جرمونو او نړیواله جرمونو لپاره هیڅ ډول بخښنه موجود نوي.
- د خبرتیا د لوړوالی له هغو نوښتونو څخه ملاتړ وکړي چې عامو خلکو ته او د ټولنو مخورو غړو ته، په ځانګړی توګه بیا لری پرتو سیمو کې، د بشری حقونو او نړیواله قانون په هکله معلومات وړاندی کوي.

## هغه پروسی د پام وړ دی چې د قربانیانو کړاوونه په پام کې نیسی او د هغوی حقونو څخه ملاتړ کوي

په داسی حال کې چې په افغانستان کې پالیسی جوړوونکې اکثره سوله او عدالت یو د بل په ځای غوره کوي، خو د څیړنی ځواب ورکوونکو په څرګنده سره دغه پروسی سره تړلی وګڼلې. دا چې په سیمه ییزه کچه د خلکو لپاره عدالت څه مانا لری، ددی تر ټولو لومړني تعریف یو مشروع او د افغانستان د ټولو خلکو استازی دولت دی. داسی یو دولت چې د هغوی له حقونو څخه ملاتړ وکړی او د عامو خلکواندیښنه ورسره وي، او همدارنګه په هیواد کې سوله او د قانون حاکمیت ته احترام رامنځته کړي. په افغانستان کې د عامو خلکو د کړاوونو تحقیقونه، په هغوی باندی د جګړو په وخت کې د تیرو شویو حالاتو رسمی درناوی، د مادی اضرارو یو ډول مالی جبران، او د هغو زیانونو په هکله چې جګړو په خلکو باندی تحمیل کړی دی د پښیمانۍ ښودل ښايي په بالقوه ډول د څه نا څه عدالت څرګندوی وي، او د پای ټکی کښیږدی، او همدارنګه د سولی رامنځته کیدو لپاره سم چاپیریال جوړ کړي. خو په هره پروسه کې ستونځی شته او ځواب ورکوونکو د امنیت د پایلو په هکله اندیښنې څرګنده کړي.

## د افغانستان حکومت د خپلو نړیوالو ملګرو په ملاتړ باید:

- د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون د جګړو د نخشی د راپور له خپریدو څخه ملاتړ وکړی او له دغه پروژی سره د تړلو ټولو کارکوونکو امنیت تأمین کړي. د نوموړی راپور د لا ښې خپریدنی لپاره د افغانستان د بشری حقونو له خپلواک کمیسیون سره کار وکړی. ددی کار لپاره د یو لړ زیاتو فعالینو ګډون ته اړتیا ده، په ځانګړی توګه په سیمه ییزه کچه.
- د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیشنری (UNHCR) د ۲۰۰۵ کال راپور [۲] باید په رسمی بڼه خپور شي.
- ملګری ملتونه باید د عالی کمیشنرۍ او د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون د پورتنیو راپوروونو او د مدنی ټولنی د سندونو پر بنسټ یوه څیړنه پیل کړي او د نورو هیوادونو له تجربو څخه کار واخلی ترڅو د راتلونکی د ریښتیا لټوونکې میکانیزمونو څخه ملاتړ وکړي.
- په افغانستان کې د یو موټی یا تاریخ په جوړولو کې د ښوونې او روزنې رول یو ځل بیا و آزمایی او له تاریخ څخه د زده کړی اهمیت پورته کړي، نه چې په تاریخ سترګې پټې شي.
- د قربانیانو ورځ په عامه توګه هر کال څرګنده کړی او د هیواد د قربانیانو یادونه وکړي.
- ډاډه کړی چې اوسنی رغوونکې پالیسی په سمه توګه کار کوي.

۲ د ملګرو ملتونو د ګډوالو د عالی کمیشنری د نخشو د تمرین راپور، د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون (د عدالت غوښتنی) راپور سره یوځای ولسمشر کرزی ته ورکړل شوی وو په دی نیت چې د نورو اسنادو لپاره لاره اواره کړی. خو په پای کې د ګډوالی عالی کمیشنری پریکړه وکړه چې دغه راپور خپور نشی.

- د شریعت د یوه اساسی اصول په توګه د زیاتو خلکو لپاره ګناه وو باندی د اقرار کولو اهمیت ته په پام سره، د ټیټو کچو طالبانو جنګیالیو لپاره نورمال ژوند ته د بیرته ستنیدو لپاره تر ټولو لا ټیټ معیار یی باید دا وی چی هغوی په خپلو کړو جرمونو باندی اقرار وکړي.
- د تیرو رژیمونو په استازیتوب په سمبولیکه او عامه بڼه بخښنه غوښتل ښایی له تیر وخت څخه د شلیدلو یوه لار وي.

## نړیواله او افغانی مدنی ټولنه باید:

- د افغانستان د پیښو د قربانیانو په نامه د یادونو د نښو جوړول وهڅوی او په دی ډېنګار وکړی چی د جګړو په دوران کې بېلا بېلو توکمیزو ډلو څه ډول له یو بل سره مرستی کړی دی.
- د ثبتولو او مستند پروسی دی لا ښه توګه همغږی شی تر څو د قربانیانو له بیا پارولو څخه مخنیوی وشی او د اوسمهالی تاوتریخوالو سره سره دی، په تاوتریخوالی باندی دی په لا پراخه پیمانه کار وشی. د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداری (AREU) څیړنه دی لا زیاتو ولایتونو ته پراخه شی تر څو د لا زیاتو خلکو غږونه له لا نورو سیمو څخه پکی راڅرګند شي.
- د قربانیانو د سازمانونو د شبکو لپاره د ځانی مدافعی/تبلیغاتو د روزنیز پروګرامونو جوړولو او وړاندی کولو ته دوام ورکړی او همدارنګه په ټول افغانستان کې د قربانیانو لپاره د داسی فرصتونو برابرولو ته دوام ورکړي چې هغوی وشی کولای خبری وکړی او داسی معلومات خپاره کړی چې له هغوی سره د هغوی د غوښتنو په تبلیغ کې مرسته وکړي.

## په افغانسان کې سوله تر لاسه کول

که څه هم زیاتره هغه کسانو چې د افغانستان د څیړنی او ارزونی د اداری په څیړنه کې ګډون وکړ د سولی د راتلونکی په هکله کم باوره وو، خو ټولیزه غوښتنه دا وه چې دولت باید د جګړی دپای ته رسولو په موخه کار وکړی او پایداره سوله رامنځته کړي. په څرګنده ښکاریده چې د خلکو په دغو غوښتنو کې د جګړی له پای ته رسیدو څخه زیاتی مسألې ځای په ځای وی، لکه عدالت، یو مشروع حکومت چې د عامو خلکو اندیښنو ته او د ټولو افغانانو تر منځ پخلاینی ته لومړیتوب ورکړي.

په داسی حال کې چې په پراخه کچه احساس دا وو چې سوله راوستنه د حکومت مسؤولیت دي، او باید چې له لوړپوړه چارواکو څخه پیل شي، خو د څیړنی په ترڅ کې ښکاره شوه چې د لوړپوړه چاروکو تر منځ د یو سیاسی جوړښت، او په عین حال کې نورمال ژوند ته د ټیټو کچو جنګیالانو راستنولو له لاری، دوامداره سوله راوستل شونی نده. ددی په ځای زیاتو خلکو د افغان هویت په پراخه پیاوړتیا ټینګار کاوه، چې د یو لړ زیاتو پروسو په کارولو سره د ټولنی په بیلابیلو کچو کې د ثبات بیرته ځای پرځای کړي. په دغه کې یو لړ مسایل شامل دی لکه، د عدالت، د ټپونو مرحم، سمول او جبرانول؛ د مثبتو اړیکو رامنځته کول؛ په کلتور او کړو وړو کې د پام وړ توپیرونه؛ او ټولنیزه، اقتصادی او سیاسی بدلون. دغه مسألې په افغانستان کې د سولی او پخلاینی د ترویج لپاره د یو اوږدمهاله لیدلوری اړتیا څرګندوي، ترڅو د وخت په تیریدو سره پروسی په طبیعی توګه وده وکړي لدی چې په سیاسی کچه تحمیل شي.

په پراخه کچه غوښتني دا وی چې د سولی راوستني پروسی باید اصلاً افغانی، او د میشتو میکانیزمونو پر بنسټ ولاړی وی، لکه د جرګو له لاری، او نړیواله ګډون پکی ډیر کم او یا هیڅ نوی. تر دغه مهاله پوری د خلکو په هاند د سولی پروسی په پراخه کچه ناکامه دی، ددی لپاره چې دغه پروسی په ریښتیا سره د افغانانو د هیلو استازی توب یی نه کاوو او مشروع خلک پکښی شامل نه وو. په پراخه کچه طالبان د سولی په وړاند خنډ ګڼل کیدل. د سیمو په کچه نورمال ژوند ته د طالبانو جنګیالیو د بیرته راستنیدو لپاره ملاتړ موجود وو خو د قدرت په مقامونو کې د طالب مشرانو د لیدو په وړاندی ډیر زیات مخالفت څرګند وو. خو ځنو ډلو (په کابل او غزنی کې) نرمی ښکاره کړه، او د هغوی غوښتنه داوه چې هغه اشخاص چې په ډیرو ناوړو کارونو ککړ پیژندل کیږی

باید چې د دولت له چوکاټ څخه لرې وساتل شي. بلاخره، کله چې یو مشروع حکومت ځای پر ځاي او مسؤولیتونه ور په غاړه شي، نړیواله ځواکونه ستانه شي، هغه وخت به د ریښتینی خبرو اترو لپاره اړین حالات برابر شی.

## د افغانستان حکومت باید:

- د لوړو کچو سیاسی پروسی او د پخلاینی سیمه بیزه نوښتونه یو له بل سره تړلی وبولی. د میشتو سیمه ایزونوښتونو په وجود باندی باید سترګي پټی نشی، خو دا تمه هم تری نشی کیدای چې همداسی به لا زیاتی شي.
- همدارنګه حکومت باید د څیړنی په ترڅ کې چې ځواب ورکوونکو د پخلاینی کوم پراخ تعریف وړاندی کړی د هغه په وړاندی محتاط وي. په داسی حال کې چې نورمال ژوند ته د ټیټو کچو جنګیالانو د را ستنولو په هکله خوښي موجوده وه خو د دغه پروسی یعنی نورمال ژوند ته د بیرته راستنیدو بریالیتوب په دې کې دی چې هغوی د اعتبار د رامنځته کولو جدی نوښتونو سره او د نوموړی شخړی د سبب سره تړلی وي.
- ډاډه کړی چې د سولی مذاکره کوونکی ناپاییلی، ریښتین، د درناوی وړ، مخور او د سولی د پروسو او مذاکری په هکله پوهه ولری او لاسونه یې د چاه په وینو ککړ نه وي.
- د سولی عالی شورا باید په فعاله توګه د مدنی ټولنو له ادارو سره، مذهبی جوړښتونو، رسنيې، د ښځو له ډلو او کلتوری موسسو سره کار وکړی تر څو ډاډه کړي چې پروسی هراړخیزه، د سولی پیغامونه خپریږی، او خلکوته د افغانستان د سولی او نورمال ژوند ته د بیرته راستنیدو پروګرام په هکله دقیق معلومات ورکول کیږي.
- ډاډه کړی چې د افغانستان د سولی او نورمال ژوند ته د بیرته راستنیدو پروګرام د ټولنو د بیاودانولو پروګرامونه په بشپړه توګه پلی شی او د دغو پروګرامونو ګټه په سیمه کې ټولو ډلو ته ورسیږی نه یوازی جنګیالیو ته.
- سیمه ایزه فعال خلک په پروګرامونو کې شامل کړای شي تر څو ډاډه شی چې د افغانستان د سولی او نورمال ژوند ته د بیرته راستنیدو پروګرام کې د محلی سولی او نورمال ژوند ته د بیرته راستنیدو کمیټې په بشپړه توګه پلی کیږی، په ریښتیا سره د خلکو استازی او روڼ دي، او همدارنګه محلی سیمی یا ټولنی ددی قدرت تر لاسه کړی چې څه وخت او څوک باید وبخښل شي.
- یوه ملی پالیسۍ په پام کې ونیسی، داسی یوه پالیسی چې موخه یې د محلی ټولنو په کچو د بخښنه غوښتنی او بخښلو پروسی له لاری د جګړو د مهال محلی اندیښنی اواری کړي. دغه به د محلی جنګ جګړی د مجرمینو د مسألی د اوارولو یوه لاری وي او قربانیانو ته به دا توان ور په برخه کړي چې ځانګړی جرمونه وبخښی او که نه.
- د پالیسۍ په کچه د پخلاینی په هکله خبرو اترو کې د ښځو د ډلو ریښتینی ګډون او د سولی او نورمال ژوند ته د بیرته راستنیدو په پروژو کې ښځې د بحث وړ ډلو په توګه وګڼل شي. حکومت باید ډاډه کړی چې د ښځو حقونه، د هغوی د اساسی قانون له حقونو او په ډیره سخته سره تر لاسه شوی آزادی، خوندی پاتی شي.
- هغه کسان چې د جنګ جګړو په جنایتونو، او یا د بشری ضد جنایاتو باندی ککړ دي، په راتلونکی کې د هغو ی د احتمالی محاکمی امکانات له منځه ولاړ نشي، ځکه چې د نړیواله قانون پر بنسټ هغوی ته همداسی ټاکل شوی ده.

## نړیوال نظامی پوځونه باید

له نړیواله ځواکونو څخه افغانو امنیتی ځواکونو ته د مسؤلیتونو لیږد ته دوام ورکړي، خو په محتاط او د اداری چټکتیا سره، تر څو د افغانستان د حکومت استقلال زیات او څرګنده کړي.

## نړیواله بسپنه ورکوونکی باید

د سولی پروسی څخه نظارت وکړی او د نړیواله بشری حقونو او د ښځو د حقونو په وړاندی ژمنې تر لاسه کړي.

## نړیواله مدنی ټولنه باید

- د افغانی مدنی ټولنی تر منځ د اړیکو او شبکو رامنځته کول وهڅوي. د مدنی ټولنو د موسسو د حقونو او رولونو په اړه لا زیاته پوهه او روزنیز پروګرامونه وړاندی کړي ترڅو هغوی د سولی په پروسو کې غوره او دپام وړ ګډونوال اوسي.
- له افغانو (افغانی) مدنی ټولنو سره کار وکړی تر څو ډاډه کړی چې د افغانستان حکومت د سولی په پروسو کې دینی مشران او د ټولنو مشرانو ته برخه ورکړي، تر څو هغوی په خپلو سیمو کې د سولی، یووالی او پخلاینی پیغامونه خپاره کړي. دغو مشرانو ته باید پوره معلومات ورکړ شی تر څو هغوی د لوړو کچو پرمختګونه سیمه ایزه کچوته ورسوي.

## افغانی مدنی ټولنی، د ښځو له ډلو سره سره، باید:

- سره یو ځای کار وکړی تر څو ډاډه کړی چې د عدالت او سولی د مسایلو په هکله غږونه واوریدل شی او حقونه خوندی پاتی شي.
- هغه اشخاص چې دسولی د پروسی مشرتابه په غاړه لري هغوی ته د نړیواله قانون، او افغانو ټولنو هیلو په وړاندی، د جګړو له قربانیانو سره سره د دغه پروسی ژمنې ورپه زړه کړو.
- باید په دی ټینګار وکړی چې د محلی نورمال ژوند ته د بیرته راستنیدو، قانونی تعقیب او د ناخوالو د اوارولو په پروسو او د پرمختګ په پروژو کې په فعاله توګه ګډون ورکړای شي.

دغه څیړنیزه پاڼه په افغانستان کې د جګړو د پاتی کیدونکو نښو ژورتیا او د سولی د لټون په وړاندی ننګونی را څرګندوی. خو دغه پاڼه همدارنګه ښکاروی چې افغانان د سولی لپاره قربانیو ته تیار دی. د ټولو خواوو د جګړو مشران باید دغه لاره غوره کړي. لدی څخه مطلب دا ندی چې سوله دی وی چې په هر قیمت هم وي. بلکه لدی څخه مطلب دا دی چې د افغانانو هیلې دی د خبرواترو د میز په محراق کې وي او د هغو د پوره کولو په موخه دی په ریښتیا سره کار وشي. یو آرامه او یوموټی هیواد جوړول ښایی چې ستونځمن کار وی خو یوه له حده وتلی یا د ناشونی غوښتنه نده.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
کورنمبر ٦٤٩، حاجي یعقوب څلور لاري څخه دشهید څلورلاري په لور،
ښي اړخ ته دریمه کوڅه. شهر نو، کابل، افغانستان
ټلیفون: ٥٨٤ ٦٠٨ ٧٩٩ (٠) ٩٣+
برېښنالیک: areu@areu.org.af
برېښنا پاڼه: www.areu.org.af